# د زيارت د زلزلې ګيله مَن متاثرين !

بوريوال كاكړ (جنوبي پښتونخوا)

زلزله يو قدرتي آفت دے او د نامه له اوريدلو سره سم د تصور په ورغوي سړي ته يو له ويرې او وسوسو نه ډك د تباهۍ غماز عكس جوړوي د راتللو معلوم وخت او ځائے نۀ لري .دا آفت هر وخت او تر ډيره حده هر ځائے راتلے شي .

د پوهانو په وينا د زلزلې لامل په زمكه كښې دننه د بدلونونو راتلل وي .د بدلونونو د راتلو دغه عمل په زمكه كښې څو سوه فټه دننه تر سره كيږي او له امله ئې زمكه خوزيږي او په لويه پيمانه د ځاني او مالي زيان سوب ګرځي.

كۀ چرې په دې سيمه كښې د دې قدرتي آفت چې په حقله ئې د پيش ګويۍ وسيله لا نۀ ده جوړه شوې په حقله پلټنه وكړو نو د جنوبي پښتونخوا او بلوچستان ايالت ځني سيمي داسې دي چې په ريډ زون يا خطرناكه سيمه كښې شمارلے شي . دغه سيمه بيا په خپله په څلورو برخو وېشل شوې دي چې فالټ ورته وئيل كيږي .په دغو كښې غذابند فالټ ،چمن فالټ ، نوشكي فالټ او چلتن تكتو فالټ شامل دي .په دې څلورو سيمو كښې چلتن تكتو فالټ بيا هغه سيمه ده چې دا ياد شوي څلور فالټونه په خپل منځ كښې يو له بل سره تړي نو له دې كبله پوهان وائي چې په دې سيمه كښې چې د كوئټي ښار ئې په ولقه كښې راځي د ډيرو زلزلو د راتګ خطره زياته ده.

په تير سل كاله كښې په جنوبي پښتونخوا او بلوچستان ايالت كښې څلور لويې زلزلې راغلې دي او سيمې ته ئې په لوئے كچ ځاني او مالي تاوان رسولے دے .د دې لړۍ لومړۍ او تباه كونكې زلزله د **1935**م كال د مئ د مياشتې په **31**مه نېټه راغلې وه چې شدت ئې د ريكټر سكيل په پيمانه **7.7** ثبت شوے ؤ .كۀ د هغه وخت او اوس سرشميرنه او حالات سره موازنه كړو نو وئيلے شو چې هغه زلزله د جنوبي ايشيا تر ټولو زوروره او تباه كونكې زلزله وه ځكه چې له امله ئې د هغه وخت په بېخي لږ سرشميرنه كښې هم د **35** زرو په شاوخوا كښې كسان له ژونده بې برخې كړي او د دغه دوه برخې نورې ئې ټپيان كړي او معيوب كړي وو . يادې شوې زلزلې د كوئټي ښار په شمول **11** سوه مربع ميله زمكه تر خپل اثر لاندې راوستې وه . له هغه وروستو بله زلزله د **1945**م كال د نومبر د مياشتې په **27** مه نېټه راغلې وه چې د كوئټي تر څنګ ئې پشين، مستونګ، كانك، مچ او د مكران ساحلي سيمو ته نقصان وركړے ؤ .البته د كم زور له امله ئې خلق له ډيرې تباهۍ څخه په امان پاتې شوي وو .



له هغې زلزلې قريب دوه کاله وروستو يوې بلې درنې او دردناکې زلزلې د 1947م کال د دسمبر په 28مه نېټه هم دغې سيمې ته داسې زيان ورکړے ؤ چې له امله ئې 5 زره او 3 سوه کسانو له دې نړۍ سترګې پټې کړې وې او لوئے شمېر معيوب شوي او بې کوره شوي وو . له هغه وروستو وخت په وخت په دې سيمه کښې واړۀ او منځنې ټکان محسوس شوي دي . په 2002م کال کښې هم يو ځل ښه وېرونکې زلزله راغلې وه چې زور ئې 3.2 ثبت شوے ؤ خو کوم خاص زيان ئې نه ؤ کړے.

له يوې اوږدې مودې وروستو دې قدرتي آفت د اکتوبر په 29مه نېټه لومړۍ د سحر په درې نيمو او بيا په څلور بجې او شل دقيقو يو ځل بيا د جنوبي پښتونخوا لويه برخه ولړزوله. دا ځل د دې ورانونکې زلزلې مرکز د جنوبي پښتونخوا د سمسورې ولسوالۍ زيارت سيمه وه. په زيارت کښې بيا څلورو کليو لکه کواسه ، ورچوم ، کاڼ بنګه او وام سخت زيان من شوي وو . چې کله د 29م دېرشم اکتوبرد سحر په درې نيمې بجې لومړۍ زلزله راغلې وه نو خلق له کوټو څخه د باندې راوتلي وو خو د زياتې يخنۍ له کبله هغوي دې ته اړ وو چې بيرته کوټو ته ننوځي. مرګ او ژوبله ټوله دې بلې دويمې زلزلې چې پينځۀ څلوېښت دقيقې وروستو راغلې وه اړولې ده . د يوې دقيقې اندازې له مخې دوه سوه شل تنه مړۀ، قريب يو زر ټپيان او له دېرشو زرو څخه زيات خلق بې کوره شوي دي . په مړو کښې لويه برخه د ماشومانو او د لوئي عمر نارينه او زنانو وه .اټکل کېدے شي چې لامل به ئې د وړوکوالي او ضعيفۍ له کبله په وخت له کوټو څخه د نۀ راوتلو وي . له دغې اوسنۍ زلزلې څخه د زيارت ولسوالۍ او خانوزي د سيمې په شمول ټولې نژدې سيمې ته زيان اوښتی او د هغوي کورونه نور د استوګې نۀ دي پاتې شوي.



لکه څنګه چې د دوبي په ابشبدلي نمر کښې د زيارت سړه هوا يواځې هغو خلقو ته معلومه ده چا چې د دې سيمې د زرغونو باغونو په سايه څو شپې تيرې کړې وي. هم دغه رنګه د 29م دېرشم اکتوبر د راغلې دردناکې زلزلې د تباهۍ اندازه هغه چاته کېدے شي چا چې د نړېدلو کورونو په منځ کښې په ولاړ د ټکري په شان نري تمبو کښې د مړو لا په خاورو سپېرو خپلوانو سره په پاتا لاس پورته کړے وي .د هغوي د وير، بې وسۍ او په خاصه توګه د بې کسۍ احساس هغه څوك کولے شي چا چې د سپينو واورو د ارام ګاه جګو غرونو په منځ کښې د ساړۀ باد له امله وچې او پرېکړې شوې شونډې او ببر سرونه ليدلي وي او د دې اندازه هغه چاته کېدے شي چا چې د زيارتوالو ولاړې قلاګانې نړېدلي او د غريبۍ د کور کالي د بل ورکړي تمبو مخ ته خوارۀ وارۀ ليدلي وي .

زۀ کۀ د کالج له ملګرو سره زيارت ته تګ او په سړۀ دوبي کښې په سړه هوا کښې اتهونه د خپل ژوند په خاطرو کښې شمارم نو هغه ورځ به هم راڅخه ډېره په ګرانه هېريږي چې کله ما په کواسه،

ورچوم، کان بنګه او وام کښي د هغه ځائے له اوسېدونکو سره د دوي د هوارو کورونو په لُوټو له دوي څخه د دردناکې زلزلې دردناکه قيصه اورېدلې وه.

څو ځله داسې وشو چې د هغوي خبرې به مې په ميان کښې قطع کړې او د هغوي پام به مې کوم بل اړخ ته واړولو هغه په دې چې د دوي د خپلوانو د بېلتون د دې غمګينې قيصې د اورېدلو توان مې نۀ لرلو. په دوي کښې ډېر قيصه ويونکې داسې وو چې د وئيلو دپاره ئې ډېر څۀ لرل خو چې چا غوږ ورته نيولے وے.

د لس کلنې شبنم بي بي چې دوې ورې خوېندې او يو تر ځان مشر ورور ئې تر رانړېدلې بام لاندې شوے او ژوند ئې له لاسه ورکړے ؤ خپله له ويراو حوصلې ډکه قيصه داسې راته تېره کړه.

''چې کله اوله زلزله راغله نو مونږ له کوټې څخه راووتو او لږ وخت دپاره د قلا په منځ کښې ناست وو خو ډېره يخني وه او مونږ بيرته لاړو په کوټو کښې پرېوتو. لږ ساعت وروستو بله زلزله راغله چې مونږ په منډه له کوټې څخه راووتو نو چت راباندې ونړېدو او مونږ ترې لاندې شو. زما دوه خوېندې او يو ورور هم ترې لاندې شو. د هغو له اوله واره غږ ورك شو خو ما نارې وهلې چې ما دروکاږئ، بيا زما اکا راغلو او زۀ ئې راووېستم. زما اوس خپلې ورکې خوېندې او ورور ډېر يادېږي ځکه چې زۀ څوك نۀ لرم چې بازۍ ورسره وکړم. څۀ خبره يم چې دغه شپه به مې هېره شي او کۀ نۀ. زمونږ کور ګړد ونړېدو او اوس مونږ په يوه خېمه کښې اوسو او په هغه کښې له شپې ډېخې يخ وي''

شبنم بي بي چې کله ماته غږېده نو به ئې خپلې تنکۍ شونډې په غاښو کښې ونيولې او هڅه ئې کوله چې ونۀ ژاړي او ځان تکړه وښيي خو د هغې په ماشوم زړۀ تېر شوي او روان حالت د هغې له سرو او ښرو وښېتانو ،وچو او پرې شونډو او سپېرۀ مخ څخه له ورايه معلوم ؤ. يوائې هغه نۀ وه دا رنګه ډېري قيصې وې چې وې خو حقيقت خو زړۀ ئې منلو ته تيار نۀ ؤ. ډېري کورنۍ داسې وې چې لس تنه، پنځلس تنه او تر دې زيات به ئې په حق رسېدلي وو. خو داسې کورنۍ هم وې چې يوائې يو ماشوم او يو د لوي عمر کس ځنې ژوندی پاتې شوي وو .د داسې خلقو له حاله خبرېدو وروستو د ژړا راتګ خو طبعي خبره وه يعني کۀ يو کس نۀ غواړي هم نو د داسې ويرجنو قيصو د اورېدلو له امله پرې د ژړا کېفيت راخورېږي.

دا هر څۀ په خپل ځائے خو د ژړا په ځائے د خندا خبره دا وه چې په څلورو واړو زيان منو شويو کليو کښې چې کله د ګرځېدلو په مهال له کليوالو سره هغوي ته په اوښتي مالي زيان او د حکومت، سياسي ګوندونو ،انجيوګانو او نورو خېريه موسسو له اړخه د مرستې په باب وغږېدم نو د شبنم بي بي دردناکه قيصه راڅخه هېره شوه.

د سختې زلزلې له امله بې کوره شويو دې کسانو ټولو د امدادي سامانونو په وېش سخت انتقادونه لرل .هغوي په لومړي سر کښې دا وئيل چې د عاجلو مرستو په شکل کښې چې بهرنيو هېوادونو د زيارت د زلزله ځپلو کورنيو دپاره کوم سامانونه مرکزي او ايالتي حکومت ته سپارلي دي د هغو درېمه برخه هم تر زيارته نۀ ده رارسېدلې دوي

په مرکزي او ایالتي حکومت دا تور لګولو چې ګوا کښې خپله مرسته خو ئې نۀ ده ورسره کړې بلکې د نورو هېوادونو رالېږل شوي خوراکي، طبي او د ورځني ژوند نور شیان ئې ورځخه پټ کړي دي . هغوي یواځې له مرکزي او ایالتي حکومتونو څخه ګیله من نۀ بلکې د زیارت ولسوالۍ له ناظم اعلي، له زیارت څخه د ایالتي اسمبلۍ غړي او ډسټرکټ کوارډنېشن افیسر او نورو دولتي مامورینو څخه هم سخت سر ټکولو .

دوي په ډاګه وئیل چې ناظم اعلی، د ایالتي اسمبلۍ غړي او د ډسټرکټ کوارډنېشن افیسر څخه نیولے د ایالت تر مشر وزیر پورې ټول په دې کار کښې یو په بل خبر او شریك دي. د هغوي په وینا لومړے ئې مرکزي او ایالتي حکومت د نورو هېوادونو له اړخه په ورکړل شویو مرستو قبضه کړې ده او بیا چې کوم څۀ له هغوي څخه زیات شي نو ئې ناظم اعلی او د ایالتي اسمبلۍ غړي او ډسټرکټ کوارډنیشن افیسر په خپلو کښې له صلاح او مشورې وروستو د خپلې خوښې په خلقو کښې وېشي .هغوي په خاصه توګه په ناظم اعلی او د ایالتي اسمبلۍ په غړي دا تور لګولو چې هر څۀ هغو خلقو ته ورکوي چا چې دوي ته په ټاکنو کښې خپله رایه ورکړې وه . دوي په زیارت کښې د مرستو په خاطر موجود فوج باندې هم دا نیوکه کوله چې نیم سامانونه له شپې په لاریو کښې بار کړي او په نامعلومه خوا ئې یوسي او پاتې نیم شیان بیا په غېر متاثره شویو خلقو کښې تقسیم کړي.

د زیارت غمجنو او غصه خلقو وئیل چې تر ټولو لویه ستونزه ئې د سختې یخنۍ مقابله کول دي د کوم دپاره چې له دوي سره ناکافي مرستې شوي دي . د هغوي په وینا چې بې کوره شویو کورنیو ته داسي خېمې او تمبوګان ورکړل شوي دي چې نۀ یخ بندوی نۀ د باران دپاره کافي دي او نۀ د راتلونکي واورین موسم مقابله کولے شي. هغوي وئیل چې هر څوك کۀ له دوي سره مرسته کول غواړي نو په کار دی چې په خپل لاس ئې په متاثرینو کښې ووېشي.

هغوي چې له ایالتي او ضلعي حکومت څخه سخت مایوسه وو ووئیل چې هیڅ ګمان نۀ کوي چې حکومت دې په نړیواله سطح اعلان شویو مرستو درېمه برخه هم تر دوي ور ورسوي او دوي ته دې خپل کورونه بیا ورجوړ او له رواني سختې یخنۍ څخه دې ئې وژغوري.

د قدرت له خوا له آفت سره مخامخ شوي زیارتوال داسي هم نۀ وو چې بس خپل ځاني او مالي زیان ورځخه هر څۀ هېر کړي په ښۀ او بد نۀ پوهېدل.

د زیانمنو کلیو لکه ورچوم ،کواسه ،کاڼ بنګه او وام خلقو له انجیوګانو، خبریه موسسو او سیاسي ګوندونو په خاصه توګه له پښتونخوا ملي عوامي ګوند څخه ډېر خوښ وو او د دې ګوند د مشرانو او عامو کارکونکو ستائنه ئې کوله . هغوي وئیل چې تر هر چا وړاندې د پښتونخوا ملي عوامي ګوند غړیو چې په کښې د بورې، سنځاوۍ او نورو شاوخوا سیمو خلق شامل وو د دوي مرستې ته ځان رسولے او دوي ئې د یوائیتوب د احساس له کولو څخه لرې ساتلي وو. د هغوي په وینا لومړے امدادي کېمپ هم د پښتونخوا ملي عوامي ګوند له اړخه لګېدلے او د دوي ئې د خپل وس او توان سره سم د مرستو کار پېل کړے ؤ .